لیکونکو:عمرخیما او میراحمد مرتضی
ژباړونکی: سید حسام مل

۲۰۲۶/۰۹/۲۱

# ایا د مکي تړون له پاکستان څخه غوارې چې د یمن په جګړه کې ښکیل شي

منبع اود خپریدو نیټه : ریس پونسیل ستیت کرفت۲۰۲۶/۰۹/۲۱

د اګست په میاشت کې، د سعودي عربستان، پاکستان او ترکیې مشرانو د مکې د ګډې دفاعي تړون لاسلیک وکړ، چې د دغو دريو هیوادونو ترمنځ په سیمه ایزه امنیتي همکارۍ کې د یو نوي فصل پیل ګڼل کیږي. د سپتمبر په لومړیو کې، حوثیانو یو نوی برید پیل کړ چې موخه یې د یمن په خاوره کې د خپل کنټرول پراخول او د باب المند ب تنګي (چې د سویس کانال او سره بحیره له هند سمندر سره نښلوي) شاوخوا د خپلې ولکې ټینګول وو. وروسته، دوی په څو ځله سعودي عربستان کې پر نظامي او انرژۍ تا سیسا تو بې پیلوټه الوتکي (ډرون) او توغندي وکارول. کله چې وضعیت خراب شو، پام په زیاتید ونکي توګه د مکي تړون او دې پوښتنې ته واوښت چې ایا پاکستان به د سعودي عربستان په ملاتړ په دې جګړه کې ښکیل شي که نه. ځینو د دې تړون پر اعتبار شک څرګند کړ، په داسي حال کې چې نورو استدلال کاوه چې دا تړون لا تر اوسه د عملي کیدو په حال کې نه دی. خو دواړه تفسیرونه د تړون د ماهیت په اړه ناسم پوهاوی ښیې.

د مکي تړون دا اصل رامنځته کوي چې پر یوه غړي برید، پر ټولو غړو برید ګڼل کیږي. خوددې معنی دا نه ده چې پرسعودي عربستان دهرې ډرون یا توغندي بریدبه په اتوماتیک ډول پاکستان یا ترکیه جګړې ته راکاږي.
ناټو (NATO) په دې برخه کې یوه ګټوره بېلګه وړاندې کوي. که څه هم د ناټو د تړون پنځمه ماده (Article 5) حکم کوي چې پر یوه غړي وسله وال برید پر ټولو غړو برید ګڼل کیږي، خو دا ماده له غړو غواړي چې "مرسته" وکړي، نه دا چې حتماً په اتوماتیک او مستقیم نظامي اقدام لاس پورې کړي. د بېلګې په توګه، د ناټو په خاوره کې د روسیې د ډرون الوتکو پرله پسې ننوتلو د پنځمې مادې د فعالیدو لامل نه دی ګرځیدلی.
سعودي عربستان تر اوسه په عامه توګه د مکي تړون نه دی فعال کړی. دا د دې پوهاوي ښکارندويي کوي چې د دې تړون موخه د ډله ایز امنیت چمتو کول دي، پرته له دې چې هیوادونه خپلې لومړنۍ دفاعي مسؤلیتونه یو بل ته وسپا ري . هغه غړی هیواد چې نښې کولی یا نه غواړي په خپله نسبتاً محدودو بریدونو ته ځواب ووایي، ممکن د "مفت سپرلۍ" (free-riding) حالت رامنځته کړي؛ هغه حالت چې یکې یو هیواد د خپلې دفاع لپاره په خپلو متحدینو باندې ډیر تکیه کوي.
غړي هیوادونه په دې کې ګټهویني چې له داسې وضعیت څخه ډډه وکړي چیرې چې محدود بریدونه په اتوماتیک ډول ټول اتحاد پراخې جګړې ته راکاږي. منځنۍ خنیځ لا دمخه له ګڼو یو بل سره تړلو شخړو سره مخ دی. که هر محدود برید د ټولو غړو لخوا د سمدستي نظامي مداخلې لامل شوی وای ، نو اتحاد به په چټکۍ سره له ډیر فشار سره مخ شوی وای.له همدې امله، د مکي تړون بنسټیز منطق د تدریجي ښکیلتیا ملاتړ کوي، چیرې چې د مرستې کچه د ګواښ د شدت سره سم زیاتیږي.
سره له دې، پاکستان داروښانه کړې ده چې د مکي تړون ته ژمن پاتې کیږي.په ځانګړې توګه په یمن کې شته شخړې ته په اشارې سره، د پاکستان د دفاع وزیر وویل: "موږ د دې تړون له شرایطو او ضوابطو سره ژمن یو او د اړتیا په صورت کې به پر هغو عمل وکړو." هغه څه چې ډیری څارونکي ترې سترګې پټوي دا دي چې د ډله ییزې دفاع په ترتیباتو کې ځانګړي معیارونه (یا حدونه) شتون لري چې د کړکیچ د شدت په بیلابیلو پړاوونو کې داړیني مرستې ښه اوکچه ټاکي. له همدې امله، د پاکستان غبرګون باید یوازې د "مداخلې" یا "نه مداخلې" په دوه اړخیزه (ساده) بڼه ونه ارزول شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ

ډېره مهمه پوښتنه دا ده چې د کړکېچ کومه کچه به د کوم ډول مرستي غوښتنه وکړي. د دې پوښتنې ځواب کېدای شي د پوځي، لوژستيکي، استخباراتي او ډيپلوماتيک ملاتړ يوه پراخه لړۍ راونغاړي.
ډيپلوماسي دکړکېچ د زياتېدو (تشديد) دمخنيوي لپاره لومړنی وسيله پاتې ده.پاکستان په دې برخه کې ځانګړی دريځ لري. په داسي حال کې چې ډېر هېوادونه بنايي د حوثيانو پر وړاندې عمليات ترسره کړي، پاکستان له هغو لږو هېوادونو څخه دی چې پر ايران د فشار راوړلو وړتيا لري ترڅو حوثيان "کنټرول" کړي.
د پوځي عملياتو له اړخه، پاکستان به خپلې ژمنې په قصدي توګه مبهمې وساتي. د داسې زغم او احتياط تر شا يوه ستراتيژيکه منطقي توجيه شتون لري. که په عامه توګه هغه شرايط او د غبرګون ډولونه په ډاګه شي چې پر بنسټ به يې غږې ځواب ورکوي، نو احتمالي دښمنان به وکولی شي خپله ستراتيژي ورسره سمه عياره کړي. برعکس، ابهام د کړکېچ د شدت د کچې (يا د غبرګون د پيل نقطې) په اړه ناڅرګندتيا ساتي او کولای شي د مخنيوي (deterrence) وړتيا پياوړې کړي . څومره چې د ښمن د اتحاد د غبرګون د څرنګوالي په اړه لږ پوهېږي، هغومره ورته د يوې داسې ستراتيژۍ جوړول ستونزمنېږي چې پر داسې غبرګون ولاړه وي چې مخکې له مخکې يې اټکل کېدای شي . پاکستان دمګړی په سعودي عربستان کې څو اړخيز پوځي حضور لري ، چې لږ تر لږه ۸۰۰۰ سرتېري او ۱۶ الوتکي پکې شاملې دي؛ او لکه څنګه چې د پاکستان د پوځ يوه وياند په دې وروستيو کې وويل، "
پاکستان به د سعودي عربستان د دفاع لپاره هر ډول ګام پورته کړي ." له عملياتي پلوه، پاکستان کولای شي (او بنايي دمګړی يې کوي) له سعودي عربستان سره په لوژستيک، د استخباراتو په شريکولو، عملياتي مديريت، هوايي دفاع او د هوايي جګړې د ملاتړ په برخو کې مرسته وکړي، پرته له دې چې په مستقيم ډول په يمن کې د ننه د حوثيانو پر مرکزونو بريدونه ترسره کړي. دلته، د پاکستان رول تر يوه حده د سعودي عربستان د نورو دفاعي همکاريو بشپړونکی دی.

**د پاکستان د اوسنی تګلارې لپاره يوه روښانه عملياتي توجيه شتون لري.**

د مکي دفاعي اتحاد (Mecca Defense Alliance) يو دفاعي تړون دی، نه يوه بهر ته لېږل کېدونکې ځواکمنه ډله (expeditionary force) چې موخه يې غړو ته د خپلو سرحدونو څخه بهر د نفوذ پراخولو زمينه برابرول وي. له همدې امله، پاکستان د دې لپاره لږ دليل لري چې په يمن کې دننه د حوثيانو د پرمختګ د مخنيوي لپاره د سعودي عربستان په هوايي کمپاين کې د مستقيم بريد کوونکي رول ولري ، که څه هم دا پرمختګونه په ښکاره ډول د سعودي عربستان سيمه ييزو ګټو ته زيان رسوي.
سربېره پر دې ، حوثيانو تر اوسه پر سعودي عربستان په خپلو بريدونو کې دومره عمليا تي زور يا پرمختګ نه دی کړی چې په يمن کې د ننه د پاکستاني ځواکونو لخوا د متقابل عملياتو اړتيا رامنځته کړي. سعودي عربستان د پرمختللو الوتکو (لکه F-15) په لرلو سره يو پياوړی هوايي ځواک لري چې کولای شي په ټول يمن کې عمليات ترسره کړي، لکه څنګه چې يې له ۲۰۱۵ څخه تر ۲۰۲۲ پورې د حوثيا نو پر وړاندې په وروستي کمپاين کې ترسره کړي وو. په پايله کې، رياض دا وړتيا لري چې د پاکستان له مستقيمي جګړه ييزې ونډې پرته، د حوثيا نو د توغند يو او ډرون الوتکو د توغولو پر مرکزونو دقيق بريدونه تر سره کړي . پاکستان باور لري چې دا عملياتي وضعيت به په نږدې راتلونکې کې همداسې دوام ومومي.
که حوثيان د سعودي عربستان خاورې ته پراخ ځمکنی بريد پيل کړي، نو وضعيت به د پام وړ بدلون ومومي. داسې عمليات به د کړکېچ د زياتوالي يو داسې نوی پړاو وي چې کيفيت يې له پخواني حالت سره توپير لري او ښايي د پاکستان له لوري د لا قوي او مستقيم غبرګون لامل شي.
خو د پاکستان په نظر، اوسمها ل د حوثيا نو لخوا د کړکېچ د زياتولو د داسې ګام پورته کولو لپاره ډېر لږ نظامي منطق شتون لري. سعودي عربستان ته د ځمکني ځواک لوی نفوذ به حوثي ځواکونه د سعودي عربستان او احتمالا د "مکي د دفاعي اتحاد" د خورا لوړ نظامي توان په وړاندې زيان منونکي کړي . داسې عمليات به د حوثيانو د ستراتيژيک موقعيت د ښه کولو پر ځای، هغوی له سخت نظامي فشار سره مخ کړي.

که څه هم د عملياتو جزئيات او د کړکېچ د زياتوالي حدود لاهم مبهم دي، خو د پاکستان ستراتيژيکي تولنې په يوه خبره اتفاق لري: حوثيان بايد د "مکي د دفاعي اتحاد" د ځواک ازموينه ونه کړي.
د باب المندب ستراتيژيک اهميت يوه ډېره پيچلې مسله ده.دا تنګی د نړيوالي سوداګرۍ او د انرژۍ د لېږد لپاره خورا مهم دی . سعودي عربستان په ځانګړې توګه په سره سمندرګي کې د کښتيو د تګ راتګ د ازادۍ په ساتلو کې ژوره ليوالتيا لري، په ځانګړې توګه په داسي حال کې چې د هرمز په سيمه کې ګډوډي رامنځته شوې ده. پاکستان هم د دې حياتي لارې په خوندي کولو کې ګټه لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

سره له دې، د سمندري امنيت په برخه کې ليوالتيا دومره قوي نه ده چې د کښتيو د تګ راتګ د ازادۍ لپاره د پاکستان لخوا د يوې خپلواکې عملياتي طرحې توجيه وکړي. پاکستان هغه سمندري وړتيا نه لري چې يوازې او په هغه کچه داسې ماموريت ترسره کړي چې د باب المندب د باوري امنيت لپاره اړين وي. د دې لارې د کنټرول لپاره هر ډول دوامداره هڅه به د مهمو ساحلي سيمو، لکه "موخا" (Mokha) په شاوخوا کې عمليا تو ته اړتيا ولري. داسې اقدام به د "مکې ټرون" له دفاعي موخې څخه خورا لرې لاړ شي.
له همدې امله، د کښتيو د تګ راتګ د ازادۍ په خوندي کولو کې د پاکستان ګډون هغه وخت ډېر احتمال لري چې د يو پراخ نړيوال ايتلاف د برخې په توګه ترسره شي. دا به عملياتو ته يو پراخ قانوني او سياسي چوکاټ چمتو کړي او پاکستان ته به اجازه ورکړي چې د يوې حياتي نړيوالې سمندري لارې په ساتنه کې ونډه واخلي، پرته له دې چې د مکې ټرون په يمن کې د يوې اوږدې مودې پوځي مبارزې په وسيله بدل کړي.
البته، د کړکېچ د زياتيد و احتمال لاهم شتو ن لري. سعودي عربستان ادعا کوي چې د مکې د سپېڅلي ښار ته نږدې يې د حوثيانو يوه بې پيلوټه الوتکه (ډرون) ويشتلې ده، يوه داسې ادعا چې حوثيان يې ردوي. پاکستان سپېڅلو ځايونو ته د هر ډول ګواښ پر وړاندې مبارزې ته ژور ژمن دی. لکه څنګه چې د چهارشنبې په ورځ د دفاع وزير خواجه اصف وويل، په مکه يا مدينه باندې هر ډول بريد يوه "سره کرښه" ده چې حتى د متقابلې دفاع له ټرون پرته به هم د پاکستان غبرګون راوپاروي. له همدې امله، په دې برخه کې د حوثيانو هر ډول ګواښ به شخړه د کړکېچ په کچه کې څو درجې لوړه کړي او اسلام اباد ته به د مستقيمې مداخلې لپاره قوي دليل ورکړي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ